# رسول الله صلی الله علیه وسلم به اکثره دا ویل چې: «يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»، «اې د زړونو اړوونکیه ذاته! زما زړه په خپل دین ثابت کړه

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به اکثره دا ويل چې: «يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»، «اې د زړونو اړوونکيه ذاته! زما زړه په خپل دين ثابت کړه»، نو ما وويل: اې د الله رسوله! موږ پر تا ايمان راوړی او پر هغه څه چې ته پرې راغلی يې نو آيا ته پر موږ وېرېږې؟ هغه وويل: «نَعَمْ، إِنَّ القُلُوبَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ»، «هو، يقينا چې زړونه د الله تعالی له ګوتو څخه په دوو ګوتو کې دي، هر ډول يې چې وغواړي همغسې يې اړوي».

[صحيح دی] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیاتره دعاګانې له الله تعالی څخه په دين او اطاعت د استقامت او له انحراف او ګمراه څخه د ځان ساتلو غوښتنه وه. نو انس بن مالک رضي الله عنه په دې خبره حيران شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولې دا دعا دومره زياته کوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل چې زړونه د الله تعالی له ګوتو څخه دوو ګوتو تر منځه دي، او هر ډول چې وغواړي هغسې يې اړوي، نو زړه چې دی د ايمان او کفر ځای دی او زړه د زياتو تغيراتو له امله قلب بلل شوی دی؛ ځکه چې دا په اوړيدلو راوړيدلو کې له کټو (ديګ) نه هم زيات سخت دی کله چې په خوټکېدلو راشي، نو چاته چې الله وغواړي زړه يې په هدايت سره ټينګ او په دين سره ثابت کړي، او چاته چې الله وغواړي نو زړه يې له هدايت څخه بې لاريتوب او ګمراه ته واړوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3142

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee